مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۵/۱۳

# مــور

فرعونه او هامانه او نمـرودہ پکې نه وه
ابلیسه پکې نــه وه او سمـوده پکې نه وه

دا یولک او څلور ویشت زره؛ ښځو زیږولي
منم چي پیغمبره بـه موجـوده پکي نه وه

که ښځه نبی نــه وه نــو ابې ددي نــږۍ وه
قاتله، تـرهـګـره او بــارودہ پکې نه وه

منم د دجالانو د قـتـال متې یې نــه وې
د مینې عاطفې سجـده مردوده پکې نه وه

د مور د پښو خاورې چې جنت نه وې نو څه وې!؟
فارغه د اولاد د غم لــه دوده پــکــې نــه وه

بــاوره! نــور خو ټول حقوق نرانو ترې اخیستي
یو مینه وه چې هیڅکلــه کمبوده پکې نه وه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ